د افغانستان اسلامي امارت
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست
د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي

---

۲٤/ شوال المکرم/۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ١٤/ ثور/۱۴۰۳هـ، ش

# د جوماتونو د آبادولو او دهغو د پاک ساتلو ضرورت او اهميت

الحمد لله على إحسانه، والشكر له على توفيقه وامتنانه، والصلاة والسلام على عبده ورسوله الداعي إلى رضوانه، وعلى آله وأصحابه وإخوانه، والتابعين لهم بإحسان إلى يوم الدين ، أما بعد:

قال الله عز وجل في كتابه الحكيم: (إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَاليوم الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللّهَ فَعَسَى أُوْلَـئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ ).التوبة : ۱۸

وقال تعالى : (وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا).الجن : ۱۸

## درنو او عزتمندو اوريدونکو!

زمونږ د نن ورځ موضوع د (جوماتونو آبادولو او پاک ساتلو اهميت او ضرورت) ده.

لکه څرنګه چې الله تعالی په دنيا کې لکه د رسولانو او پيغمبرانو په څير سپيڅلي انسانان پيداکړي دي همداسې يې سپيڅلي او مقدس ځايونه پيدا کړي دي چې هغه جوماتونه دی. لکه څرنګه چې الله تعالی غوره او بهتره مياشتې غوره ورځې، غوره شپې او غوره وختونه پيداکړي دي همداسې يې غوره او بهتره ځايونه پيداکړي دي چې جوماتونه دي

جوماتونه په ځمکه کې د الله تعالی کورونه دي او د زيات تقدس او سپيڅلتيا له امله الله تعالی د جوماتونو نسبت ځان ته کړی دی او فرمايلي يې دي:(وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا).الجن : ۱۸

ترجمه: او دا چې يقينًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هيڅوك مه بلئ

په يو بل مبارک آيت شريف کې راځي: (وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُوْلَـئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلاَّ خَآئِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ). البقرة : ١١٤

ترجمه:اوله هغه کس نه بل زيات ظالم څوك دی چې د الله جوماتونه بندوي (له دې خبرې نه) چې په دغو(جوماتونو)کې د هغه (الله) نوم ياد کړی شي اود دغو(جوماتونو) په ورانولو کې کوشش کوي، دغه کسان چې دي، دوی ته دا حق نشته چې دې (جوماتونو) ته ننوځي مګردا چې وېربېدونکي وي، د دوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او د دوی لپاره په اخرت کې ډېر لوی عذاب دی

جوماتونه د ځمکې په سر الله تعالی ته تر ټولو غوره ځايونه دي.(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ:أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم قَالَ :أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا ، وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا). صحيح مسلم (۱۴۷۳)

ترجمه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : تر ټولونه ډير غوره ځايونه د الله پر وړاندې جوماتونه دي اوترټولو بد ځايونه الله تعالی ته هغه بازارونه دي

بلکې جوماتونه د هر متقي او مسلمان کور دی. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ: الْمَسْجِد بَيتُ كُلِّ تَقِيّ). مسند البزار(٦ /٥٠٦)، حلية الأولياء(١ /٢١٤)

ترجمه: د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: جومات د هر پرهیزگاره کور دی.

په یو بل روایت کې راځي چې مسجد د هر مسلمان مؤمن کور دی. (الْمَسْجِدُ بَيْتُ كُلِّ مُؤْمِنٍ) حلية الأولياء( ٦ /١٧٦)

ددې امله د جوماتونو آبادول د الله تعالی د کورونو آبادول دي.

د جوماتونو آبادول په دوه ډوله دي : یو حسي أبادول او جوړول دي چې جومات نه وي او هغه له سره آباد او جوړشي او یا وران وي هغه د بیا ځل لپاره آباد شي او همدا راز ترمیمول، د جوماتونو پاک او نظیف ساتل او جوماتونه په روښنایي روښانه کول او په جوماتونو کې فرش غوړول او جوماتونو ته د برق او اوبو رسول داهم حسي آبادول دي.

او بل معنوي آبادول دي چې هغه دجوماتونو په لمانځه ، تلاوت، ذکر، ديني درس او تدريس باندې آباد ساتل دي او جوماتونه له هغه څه ساتل چې جوماتونه د هغې لپاره نه دي آباد شوي لکه په جومات کې خبرې او دنیوي مجلسونه کول په جوماتونو کې اخیستل او خرڅول.

د جوماتونو حسي او معنوي آبادول د ایمان نښه او علامه ده او دا د هغه چاکار دی چې دالله تعالی هدایت یې په برخه شوی وي او سمه لار یې موندلی وي. الله تعالی فرمایلي دي: (إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَاليوم الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللّهَ فَعَسَى أُوْلَـئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ ).التوبة : ١٨

ترجمه: د الله جوماتونه خو یواځې هغه څوك ابادوي چې پر الله او د اخرت پر ورځ یې ایمان راوړی وي او لمونځ قایموي او زکات ورکوي او نه ویرېږي غیر له الله نه، نو امېد دی چې دغه کسان به له هدایت موندونکو څنې وي

حافظ ابن کثیر وایي: چې الله تعالی په دې آیت کې د جوماتونو آبادوونکو لپاره په ایمان شاهدي ویلی ده. تفسير ابن كثير( ٢ /٤١٥)

قاضي بیضاوي وایي چې په دې آیت کې د آبادولو څخه معنوي آبادول هم مراد دي:(ومن عمارتها تزيينها بالفرش وتنويرها بالسرج وإدامة العبادة والذكر ودروس العلم فيها وصيانتها مما لم تبن له كحديث الدنيا).تفسير البيضاوى (٣ /١٣٦)

او د جوماتونو له آبادولو څخه مراد جوماتونه په فرش سره ښایسته کول او په روښنایی سره روښانه کول او په کې په دوامداره توگه عبادت او ذکر کول او په کې علمي درسونه کول او جوماتونه د هغه څه نه ساتل چې د هغې لپاره جوماتونه نه دي بنا شوي لکه دنیوي خبرې.

داسلام په مبارك دين کې د جوماتونو آبادول دومره مهم او ضرور دي چې کله نبي علیه السلام مدینې منورې ته هجرت کولو نو هغه وخت چې د قباء مقام ته ورسید، لومړی هغه کار چې نبي علیه السلام وکړ د مسجد قباء د آساس ډبره یې کینښوده او مسجد قباء یې جوړ کړ ، چې دا په اسلام کی لومړی مسجد دی چې نبي علیه السلام په مدینه منوره کې جوړ کړی دی.[ البداية والنهاية ٢٠٩/٣ ] دا ځکه چې جومات د ټولو اسلامي شرایعو د انځورولو ځای گڼل کیږي.

همدا راز کله چې نبي علیه السلام د مدینې منورې مرکز ته ورسید؛ هغه لومړنی کار چې نبي علیه السلام وکړ هغه د مسجد نبوي لپاره د ځمکې انتخابول او په هغې د مسجد نبوي آبادول ؤ .

همدا ډول کله به چې نبي علیه السلام د غزا یا جهاد لپاره سفر وکړ او په کوم ځای کې به پاتې شو، هلته به یې جومات جوړ کړ او صحابه کرامو ته به یې په کې لمونځ ورکولو. [وفاء الوفا بأخبار المصطفى للسمهودي ١٠٢٨/٣.]

صحابه کرامو هم په دې کار کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پیروي وکړه او درسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته یې د هغه پر عمل عمل وکړ، په ځانگړي توگه خلفای راشدینو دې کار ته زیاته توجه وکړه، حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په خپل دوران کې خپلو والیانو ته امر وکړ چې د امارت په مقر کې جامع جومات جوړ کړي او قبائلو او کلیو ته هم امر وکړي چې په خپلو قبیلو او کلیو کې د لمانځه لپاره جوماتونو آبادکړي.

دحضرت عمر رضی الله د هدایت په اساس په نوو فتحه شوو منطقو او ښارونو کې جامع مسجدونه اعمار او تأسیس شول. حضرت سعدبن وقاص رضی الله عنه په کوفه کې یو لوی جامع مسجد جوړ کړ ، په بصره کې حضرت عتبه بن غزوان یو لوی جامع مسجد جوړ کړ، او په مصرکې حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه یو لوی جامع مسجد جوړکړ.

په يو روايت کې راځي: (عن عثمان بن عطاء قال لما فتح عمر بن الخطاب البلد كتب إلى أبي موسى الأشعري وهو على البصرة يأمره أن يتخذ للجماعة مسجداً فإذا كان يوم الجمعة انضموا إلى مسجد الجماعة فشهدوا الجمعة). كنز العمال ۸/۳۱۳-۳۱۴.

د عثمان بن عطاء رحمه الله څخه روايت دی چې کله عمر بن الخطاب رضي الله عنه ښار فتح کړ حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته یې خط ولیګه اوهغه په بصره کی وه چې د لمانځه دجماعت لپاره جومات جوړ کړه ،کله به چې دجمعې ورځ شوه ټول به هغه جامع جومات ته راټول شول او د جُمعې لمانځه ته به حاضر شول.

داچې په اسلام کې په جومات پورې ډیرې دیني او اسلامي خبرې تړلي دي او جومات د مسلمانانو لپاره د لمانځه او عبادت، شورى، د فیصلو کولو او نورو مهمو کارونو مرکز دی. که جومات نه وي نو پنځه وخته لمونځونه به په جماعت سره نه اداء کیږي او خلک به دجماعت له فضیلت څخه محروم وي، که جومات نه وي نو دماشومانو سبقان به هم نه وي، که جومات نه وي ؛ نو آذان به نه وي چې خلک د لمانځه د وخت دداخلیدو څخه خبر شي ، که چیرې جومات نه وي نو د جُمعې او اخترونو د ورځو تقریرونو، بیانونو او دخطبو بیانولو ځای به نه وي او د حلالو او حرامو او نورو احکامو بیانولو ځای به نه وي او په دیني روحیه د نوي نسل د تعلیم او تربیې ځای به نه وي او که جومات نه وي نو خلک به یو د بل له حال څخه نه خبریږي او که جومات نه وي ددیني درسونو تدریس او تعلُم به نه وي ، که جومات نه وي د دیني زده کړو طالب علمانو لپاره به داوسیدو ځای نه وي، که جومات نه وي نو داسلام شعائر به مختل وي، نو ځکه داسلام مبارک دین د جومات په آبادولو خورا زیات ټینګار کړی دی او د جومات آبادول یې لوی فضیلت ګڼلی دی. په یو حدیث شریف کې راځي:(عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال : سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: مَنْ بَنَي مَسْجِدًا يبْتَغِي بِهِ وَجْهَ الله، بَنَي اللهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ). متفق عليه

ترجمه: له حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: اوریدلي مې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایل یې: څوک چې جوړ کړي جومات او طلبوي په دی سره د الله رضا نو الله جل جلاله به په جنت کې ده ته کور جوړ کړي .

په سنن ترمذي کې د انس رضي الله په روایت کې راځي:(مَنْ بَنَى لِلهِ مَسْجِدًا ، صَغِيرًا كَانَ ، أَوْ كَبِيرًا ، بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ).أخرجه التِّرْمِذِي (۳۱۹) صحيح الترغيب والترهيب ۱/٦٦.

ترجمه: نبي علیه السلام فرمایلي دي چې څوک آباد کړي خاص دالله د رضا لپاره یو جومات وړوکی وي او که لوی، آباد به کړي الله تعالی دده لپاره یو کور په جنت کې.

په سنن ابن ماجه کې د علي رضی الله په روایت سره راځي:(مَنْ بَنَى لِلهِ مَسْجِدًا،مِنْ مَالِهِ، بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ.أخرجه ابن ماجة (۷۳۷)

ترجمه:څوک چې آباد کړي خاص د الله تعالی د رضا لپاره یو جومات د خپل مال څخه ، آباد به کړي الله تعالی دده لپاره یو کور په جنت کې.

په یو بل روایت کې راځي:(عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عُمَّارُ بُيُوتِ اللَّهِ هُمْ أَهْلُ اللَّهِ). المقصد العلي في زوائد أبي يعلى الموصلي للبوصيري(۱ /۱۲۵)

ترجمه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي آبادوونکي د الله تعالی د کورونو دوی دالله خاص خلک دي.

په یو بل روایت کې راځي: (عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ لَيُنَادِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ جِيرَانِي؟ أَيْنَ جِيرَانِي؟ قَالَ: فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ رَبَّنَا وَمَنْ يَنْبَغِي أَنْ يُجَاوِرَكَ فَيَقُولُ أَيْنَ عُمَّارُ الْمَسَاجِدِ). بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث للهيثمي(۱ /۲۵۱)

ترجمه: دانس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي بیشکه الله تعالی به د قیامت په ورځ آواز وکړي(بلاکیف) چې چیرته دي زما ګاوندیان؟ چیرته دي زما ګاوندیان؟ ملائکې به ورته ووایي ای زمونږ ربه! او څوک مستحق ددې دی چې ستا ګاوندي شي؟ الله تعالی به وفرمایي: چیرته دي آبادوونکي د جوماتونو.

**د جوماتونو د پاک ساتلو اهمیت او ضرورت:**

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه چې د جوماتونو معنوي آبادول، هغه د جوماتونو د هر ډول خیري، ناپاکی، بدبویو او چټلیو څخه پاک او نظیف ساتل دي.

داسلام مبارک دین د جوماتونو په نظافت امر کړی دی او د جومات د پاک ساتلو په باره کې یې خلکو ته ترغیب ورکړی دی او د جوماتونو پاک ساتل یې اجر او ثواب گرځولی دی او دجوماتونو چټلول یې حرام گرځولي دي او په جومات کې چټلي اچول یې لویه گناه گرځولی ده.

فقهاء او مفسرینو وایې چې جوماتونه له نجاست، چټلی، مرداری، بدبویه کولو پاک ساتل مهم ، ضروري او حتی واجب دي، ځکه چې الله تعالی د جوماتونو په پاکوالي امر کړی دی. الله تعالی فرمایلي دي :(وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ) البقرة: (١٢٥)

ترجمه: او مونږ ابراهیم او اسمٰعیل ته کلك حکم وکړ دا چې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاك کړئ

مفسرین وایې چې په دې مبارک آیت کې د پاکوالي څخه د بوتانو او نجاستونو څخه پاکوالی مراددی.

امام قرطبي رح وایې: په دې حکم کې معناً ټول دالله تعالی کورونه شامل دي او په پاکوالي او نظافت کې نور دالله کورونه د بیت الله حکم اخلي. تفسیر القرطبي (٢ /١١٤)

امام آلوسي وایي: ددې (تطهیر) څخه د هر هغه څه نه تطهیر او تنظیف مراد دی چې د بیت الله لائق نه وي چې په دې کې بوتان ، نجاستونه او ټول خبائث شامل دي. روح المعاني (١ /٣٨٠)

حافظ ابن کثیر وایې: د مساجدو پاکوالی حکم ددې مبارک آیت څخه اخیستل شوی دی. تفسیر ابن کثیر(١ /٢١٦)

یو بل مبارک ایت کریمه چې د جومات په پاکولو امر کوي هغه دادی : (فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ).النور : ٣٦

ترجمه: په هغو کورونو (جوماتونو) کې چې الله حکم کړی دی چې پورته دې کړل شي او په دغو کې دې د ده نوم یادوه شي او په دغو (جوماتونو) کې د هغه پاکي بیانوي، د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې

امام عطاء رح ددې آیت په تفسیر کې وایي: (هي هذه المساجد أمر الله سبحانه وتعالى ببنائها و عمارتها ورفعها وتطهيرها. تفسیر ابن کثیر (٣ /٣٥٦)

هغه همدا مساجد دي ، الله تعالی امر کړی دی په آبادولو او جوړولو ددې او په اوچتولو ددې او په پاکوالي ددې مساجدو.

امام حسن بصري رح ددې کلمې ( أن ترفع) معنا داسې کوي چې ددې عظمت دې وشي او اوچت دې کړل شي شان د مسجدونو او پاک دې کړل شي مسجدونه له پلیتیو او گنده گیو څخه. تفسیر القرطبي (١٢ /٢٦٦)

علامه ابن نجیم رح وایي: (فَإِنْ كان بِحَيْثُ يَتَلَوَّثُ الْمَسْجِدُ يمْنَعُ منه لِأَنَّ تَنْظِيفَ الْمَسْجِدِ وَاجِبٌ). البحر الرائق (٢ /٣٢٧)

ترجمه:که چیرې داسې ؤ(سر وینځل) چې مسجد ور څخه چټلیدلو نو ددې څخه به ممانعت کیږي؛ ځکه د مسجد پاکول واجب دي.

د جوماتونو پاک ساتل لوی فضیلت لري. نبي علیه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او د هغې په قبر یې لمونځ وکړ، کومې ښځې چې به جومات پاکولو.په یو حدیث شریف کې راځي. (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ ، فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَسَأَلَ عَنْهَا بَعْدَ أَيَّامٍ ، فَقِيلَ لَهُ : إِنَّهَا مَاتَتْ ، قَالَ : فَهَلاَّ آذَنْتُمُونِي ، فَأَتَى قَبْرَهَا ، فَصَلَّى عَلَيْهَا). سنن ابن ماجة وصححه فى الترغيب والترهيب.

ترجمه: دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه فرمایي یوه د تور رنگ والا ښځه وه چې هغې به جمات جارو کولو ، نبي علیه السلام هغه ښځه ونه لیدله او څو ورځې وروسته یی د هغې په اړه پوښتنه وکړه.چا ورته وویل چې هغه خو مړه شوی ده، نبي علیه السلام وفرمایل: نو ولی مو ماته خبر نه دی راکړی، نو بیا نبي علیه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او لمونځ یې ورباندې وکړ.

نبي عليه السلام حتی د هغو جوماتو په پاک ساتلو امر کړی دی چې په کورونو کې دي. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَّخِذَ الْمَسَاجِدَ فِي دِيَارِنَا وَأَمَرَنَا أَنْ نُنَظِّفَهَا). [مسند أحمد]

ترجمه: د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته امر کړی دی چې مونږ په کورونو کې جماتونه جوړ کړو او مونږ ته يي امر کړی دی چې هغه پاک وساتو.

بناءً په جوماتونو کې د لاړو توکلو څخه بايد ځان وساتل شي، ځکه دا کار مسجد چټلوي او که چيرې څوک لاړو توکلو ته مجبور شي، بايد پخپل څادر باندې يې تو کړي او يا دې په ځمکه تو کړي او هغه دې په خاورو کې پټ کړي.

د مسلم په روايت کې امام قاسم بن محمد بن ابي بكر رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله وعليه وسلم په دې برخه کې يوې کلمې مطلب داسې بيانوي:(وَوَصَفَ الْقَاسِمُ فَتَفَلَ فِي ثَوْبِهِ ، ثُمَّ مَسَحَ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ). المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم (٥ /٨٨) امام قاسم بن محمد دا جمله (فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيَقُلْ هَكَذَا) داسې تشريح کړه چې په خپله جامه کې يې لاړې تف کړی او بيايې د جامې ځينې حصې په ځينو نورو پورې ومخلې.

دانسان لاړې پاکې دي خو بيا هم په مسجد کې لاړې توکل مطلقه خطا ده او ددې خطا کفاره داده چې په خاورو يا شګو کې دفن شي. په يو حديث شريف کې راځي: (عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا). صحيح البخاری

ترجمه: د انس رضی الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لاړې توکل په جومات کې خطا ده او دهغې کفاره د لاړو او خړاشکو پټول دي.

جمهور علماء وايې دا به هغه وخت دفن کوي چې په مسجد کې خاورې او يا شګې موجود وی؛ که په مسجد کې خاورې يا شګې نه وي بيا يې له مسجد څخه بيرون ويستل لازمي دي. شرح النووي (٥ /٤١)

رسول الله صلی الله عليه وسلم عملا د جومات په پاکوالي کې برخه اخيستې ده او د مسجد د ديوال څخه يې هغه خړاشکی وګرول چې بل چا ور توکلی ؤ چې درسول اکرم صلی الله عليه وسلم دا عمل د جومات دپاکوالی او نظافت پر اهميت او ضرورت دلالت کوي. په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- رَأَى نُخَامَةً فِى قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَحَكَّهَا بِحَصَاةٍ ثُمَّ نَهَى أَنْ يَبْزُقَ الرَّجُلُ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ أَمَامَهُ وَلَكِنْ يَبْزُقُ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى). صحيح مسلم(٢ /٧٥)

ترجمه: ابو سعيد خدری رضی الله عنه وايي چې نبي عليه السلام دجومات په قبلې طرف کې (د قبلې طرف ديوال باندې) خړاشکی وليد ، هغه يي وګرولو په يوه تيګه باندې بيا يي منع وکړه ددې نه چې تف کړي سړی(دخولی لاړې) خپل ښي اړخ ته او يا مخې لور ته، مګر (که مجبور شو) نو تف دې کړئ (د خولی لاړې) خپل چپ اړخ ته او يا د چپې پښې لاندې تف کړئ.

امام نووي ددې جملې (وليبزق تحت قدمه وعن يساره) په شرح کې وايې: (هذا في غير المسجد أما المصلى في المسجد فلا يبزق الا في ثوبه). شرح النووي على مسلم (٥ /٣٩) دا کار دې هغه وخت کولای شي چې په جومات کې نه وي؛ خو که چيرې په جومات کې ؤ ؛ نو پرته د خپلو جامو څخه دې په بل ځای کې نه تف کوي.

له جومات څخه د خولی لاړو او خړاشکو ، د سترګو ګندګۍ بيرون ويستل لوی اجر لري. په حديث شريف کې راځي:(عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم:عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي ، حَتَّى الْقَذَاةِ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ ، وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوبُ أُمَّتِي ، فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ ، أَوْ آيَةٍ ، أُوتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا. أخرجه أبو داود (٤٦١) والتِّرْمِذِيّ(٢٩١٦) وابن خزيمة ١٢٩٧ .

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : وړاندې کړی شول ماته( دمعراج په شپه يا په کوم بل وخت کې) اجرونه زما د امت حتی اجر د سترګو د ګندګۍ چې وباسي يې يو سړی له جومات څخه او وړاندې کړل شول ما ته ګناهونه دخپل امت؛ نو ومې نه ليده لويه ګناه ددينه چې د قرأن کريم سورت او يا آيت ورکړل شوی وي يو سړي ته او بيا يې هغه هير کړی وي.

صحابه کرامو به د مسجد پاکوالي ته زيات توجه کوله. په يو روايت کې راځي:(عن أبي عبيدة بن الجراح أنه تنخم في المسجد ليلة فنسي أن يدفنها حتى رجع إلى منزله، فأخذ شعلة من نار ثم جاء فطلبها حتى دفنها، ثم قال: الحمد لله الذي لم يكتب عليَّ خطيئة الليلة. الثمر المستطاب ٧٢٠. مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٥ /١٢٣)

ترجمه: د ابوعبيده بن جراح رضي الله عنه په هکله راځي چې هغه يو شپه په مسجد کی خړاځکي تف کړل او له هغه ځخه د هغې دفن کول هير شول، هغه کورته لاړ او د اور يوه شعله يې راوړله او هغه خړاځکی يې ولټولو او بيا يې هغه دفن کړ او بيايي وويل الحمدلله چې د نن شپې خطا را پسې ونه ليکل شوه.

لازم دي چې جوماتونه دې له بدو بويونو ځخه وساتل شي ؛ چې دا مشکل په افغانستان کې ډير زيات دی او خلک يی په اړه بې تفاوته دي . خلک په گرمو سيمو کې د خولو ډک جامو او د خولو د بوی ډک بدن سره جومات ته راځي او خوله يې د نسوارو او يا د سگرټو له امله بوی کوي او دا بدبوی مسجد ته داخلوي چې له امله يې انسانان هم په اذيت کيږي او ملائکې هم په اذيت کيږي دا په داسې حال کې چې په گرمو سيمو کې د بدن وينځل کوم مشکل کار نه دی.

همدا راز په مرکزي ولايتونو او دکابل په ولايت کې خلک پياز او گندنه خوري او د بدبوی ځخه په ډکه خوله جومات ته راځي او جومات ته بدبويونه راوړي چې دا ډيره عامه کړنه ده او خلک يې په اړه هيڅ فکر نه کوي حال داچې دا يوه لويه خطا ده.

دده دبد بوی له لاسه لمونځ کوونکي سخت په تکليف کې وي خو ورته ويلی نشي چې درروه کله مسجد ته راځي ، خوله دې پاکه ووينځه، بدن دې له بدبوی پاک کړه او له ځانه هر ډول بدبوی لری کړه او بيا راشه .

نبي عليه السلام په دې اړه سخت وعيد ذکر کړی دی او فرمايلي يې دي:(عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ : مَنْ أَكَلَ الثُّومَ وَالْبَصَلَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ) . مُتَّفَق عَلَيْهِ .

ترجمه: د جابررضي الله عنه ځخه روايت دی چې بيشکه پيغمبر عليه السلام وفرمايل: ځوک چې وخوري ووږه او پياز اوگندنه نو نه دې نږدې کيږي زمونږ مسجد ته ؛ ځکه ملائکې متضرره کيږي د هغه ځه نه چې بني آدم ورځخه متضرره کيږي.

علامه ابن عابدين رحمه الله وايي:( وَكَذَلِكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ ، وَكَذَلِكَ الْقَصَّابُ ، وَالسَّمَّاكُ ، وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ ). رد المحتار (٥ /٩٧)

ترجمه: همدارنگه ځينو علماوو په دې پوري ملحق کړي دي هغه ځوک چې په خوله کې فطري بدبوي وي او يا يي په جسم کې داسې زخم وي چې بد بوی لري، مگر قصـاب، ماهي نيوونکی، او هغه ځوک چې په جذام مرض اخته وي او يا په ابرص مرض اخته وي، دوی ډير مستحق د الحاق دي د بدبويه خلکو پورې.

ددې خلاصه داده چې ځوک په بدن، جسم، لباس کې هر ډول بدبوی ولري ددې بدبوی سره دې جومات ته نه داخليږي ترڅو چې بدبويی ځخه ځان پاک کړي.

همدا راز د جوماتونو په شا او خوا کې بدبويه شيان لری کول په کار دي ترڅو بدبويې يې جومات ته داخل نشي.

ټول فقهاء په دې متفق دي چې جوماتونه له نجاست او گندگی ځخه پاک ساتل واجب دي او مسجد ته نجاست داخلول جائز نه دي او دا هم جائز نه دي چې ځوک د بدن او يا د لباس او يا د زخم نجاست جومات ته داخل کړي.

په همدې اسـاس د ځارويو، ليونيو او کوچنيانو داخلول جومات ته مکروه دي، ځکه په دې کې د جومات د چټلولو ويره شـته. الموسـوعة الفقهية الكويتية (١٤ /٦٢-٦٥)